
# د نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
# جسماني طاقت

21-November-2019



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کيدونکے
د سُنَّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د نبـي كريم ﷺ جسماني طاقت

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ **(ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښے ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. ياد ساتئ! جُمات کښے د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِيَّت هُم صرف خوراك څښاك يا اُوده کيدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. **"فتاویٰ شامی"** کښے دي: که څوك جُمات کښے خوراك څښاك يا اُوده کيدل غواړي نو د اِعتِکاف نِيَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُ الله اوکړي بيا چه څه غواړي کوي دِ (يعني بيا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کيدے شي)

## د دُرُود شريف فضيلت

د حضورِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: د **الله** تعالیٰ د پاره خپل

مینځ کښې مَحبَّت کوونکي چه کله ملاقات اوکړي او مُصافَحه اوکړي (یعني لاس مِلاو کړي) او نبي (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندے دُرُودِ پاك اولیږي نو د هغوئي د جُدا کیدو نه مخکښې د دواړو تیر شوي او راروان ګُناهونه اُوبخښلے شي. (مسند ابی یعلی، ۳/۹۵، حدیث:۲۹۵۱)

کعبے کے بدر الدُّجیٰ تم پہ کروڑوں دُرُود طیبہ کے شمسُ الضُّحیٰ تم پہ کروڑوں دُرُود
(حدائقِ بخشش، ص۲۶۴)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: "**نِیَّةُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل:** نیك او جائز کار کښې چه څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

## د بیان اوریدلو نیتونه

نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بیان اورم. ☆ چه څومره کیدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت دوزانو [یعني د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې ] کښینم ☆ د بل د پاره ځائے فراخه کولو د پاره به ضرورتاً د خپل ځائے نه خوزیږم ☆ که د چا په دِیکه وغیره اولګیدم نو د بد بد کتلو، رټلو او بحث کولو په

[1] (معجم کبیر سھل بن سعد الساعدی...الخ، ۶/۱۸۵، حدیث ۵۹۴۲)

ځائے به صبر کووم. ☆ صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب، اُذْکُرُوا الله، تُوبُوا اِلَی الله وغیره چه اورم نو د ثواب ګټلو او د آواز لګوونکو د زړه ساتلو د پاره به په اوچت آواز باندے جواب ورکووم. ☆ د اِجتِماع نه پس به پخپله ورمخکښے کیږم او سَلام و مُصافَحه او اِنفرادي کوشش به کووم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** د رَبِیۡعُ الۡاَوَّل د مبارکے میاشتے برکتونه جاري دي، هر طرف ته د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترانے دي. عاشقانِ رسول د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تعتونو خپل زړونه او دماغ مُعَطَّر [یعني خوشبوداره] کوي، ☆ یو ځائے کښے د هغوئی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د ولادت ذِکر** دے نو بل ځائے کښے د **هغوئی د کمالاتو** خبرے دي، ☆ یو ځائے کښے د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **شان و عَظَمت** بیان دے نو بل ځائے کښے د هغوئي د مبارك **صورت** ذِکرِ خیر دے، ☆ یو ځائے کښے د **عبادتِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیان دے نو بل ځائے کښے د **سِیادَتِ مصطفٰی** بیان دے، ☆ یو ځائے کښے د **شفاعتِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تذکرے دي نو بل ځائے کښے د هغوئي د **عنایتونو** چرچے دي، ☆ یو ځائے کښے د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **عظمتونو** بیان دے نو بل ځائے کښے د هغوئي د **رِفعتونو** ذِکر دے، ☆ یو ځائے کښے د **طاقتِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیان دے نو بل ځائے کښے د **شُجاعتِ مصطفٰی** بیان دے، ☆ یو ځائے کښے د **نکاحِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرے دي نو بل ځائے کښے د **عطائے**

**مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیان دے، ☆ یو ځائے کښے د **خاندانِ مصطفٰی** بیان دے نو بل ځائے کښے د نبوت د برکاتو بیان دے، ☆ یو ځائے کښے د **مُعجزاتِ مصطفٰی** بیان دے نو بل ځائے کښے د **اخلاقِ مُصطَفیٰ** بیان دے، ☆ یو ځائے کښے د **اختیاراتِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیان دے نو بل ځائے کښے د **نوازشاتِ مُصطَفیٰ** بیان دے، ☆ یو ځائے کښے د **هجرتِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیان دے نو بل ځائے کښے د **استقبالِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیان دے. لکه یوه یوه ذره چه د **میلادِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د برکتونو نه خپله خپله حصه حاصلوي. په هُم دے مناسبَت به نن مونږه اِنْ شَآءَاللّٰه د سرورِ دوعالَم فخرِ کائنات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **جسماني طاقت** په باره کښے اورو. الله پاك دِ مونږ ته ټول بیان د ښو ښو نیتونو سره د اوریدلو سعادت را نصیب کیږي. **راځئ** چه د ټولو نه مخکښے په هُم دے باره کښے یوه واقعه اورو: چنانچه

## نبـي کریم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د عرب مشهور پهلوان

د مکے په خوا و شا علاقه کښے رُکانه نومے یو پهلوان اوسیدلو. د هغه نسبي تعلق د بنوهاشم سره وو، هغه ډیر طاقتور، زوررور، رُعب دار او دبدبے والا کس وو. د کوهِ اضم په لمَن کښے یوه شنه علاقه وه هلته به ئے چیلئ څرولے. په هغه علاقه کښے به چا قدم نه شو ایښودلے. خلقو به د هغه مخے ته ورتللو نه ډډه کوله. د مشرکینو او دُښمنانِ اسلام د پروپیګنډے په وجه هغه د نبـي کریم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه سخت نفرت کولو. د هغه دُښمني دے حد ته رسیدلي وه چه **مَعَاذَالله** هغه د خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شهید کولو په کوشش کښے وو. یوه ورځ سردارِ دوجهان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خطرے هیڅ پرواه

اونکړله او بے یَرے ئے د رُکانه علاقے ته د دِینِ اسلام د دعوت د پاره یواځے تشریف یوړلو. رُکانه هم هلته راغے، خوږ نبـي ﷺ ئے چه اولیدلو نو د غُصّے نه تاو شو او د تکَبُّر په نشه کښے بدمسته شو او اوئے وئیل: یَامُحَمّدُ! اَنْتَ الَّذِیْ تَشْتِمُ اٰلِهَتَنَا یعني اے محمد (ﷺ) هغه تاسو ئے چه زمونږه معبودانو ته بد وائے؟ د دے نه پس هغه نورے ترخے خبرے اوکړے او اوئے وئیل: اے محمد (ﷺ) تاسو زمونږه معبودانو ته سپك او کمزوري وائے او د خپل خدائے لوئي بیانوئ. که زما تاسو سره خانداني خپلوي نه وے نو نن به ما ستاسو کار ختم کړے وے، خو [بیا به هُم] زه تاسو بغیر د مُقابَلے نه نه پریږدم.

د دے نه پس رُکانه نبـي کریم ﷺ ته د کُشتئ کولو دعوت ورکړو او اوئے وئیل: زه به خپلو خدایانو نه مدد غواړم او تاسو خپل خدائے نه مدد غواړئ. که تاسو زه ځملولم نو زه به تاسو ته لس چیلئ درکړم. نبـي کریم ﷺ د هغه چیلنج قبول کړو او هغه سره کُشتي کولو ته تیار شو. خوږ نبـــي ﷺ د رُکانه په لاسونو کښے لاسونه ورکړل او د هغه پنجه ئے تاو کړه. رُکانه حیران شو او د درد نه بیقراره شو. بیا نبـي کریم ﷺ هغه له دِیکه ورکړه نو هغه د اوچے پانړے په شان په زمکه پریوتو. رُکانه په خپل طاقت ډیر تَکَبُّر کولو، هغه دا سوچ هم نه وو کړے چه صادق و اَمین ﷺ به ما ته په یو ساعت کښے شکست راکړي. څه چه اوشو د هغه د توقع خلاف وو. خو رُکانه دا اتفاق اوګڼړلو او شکست ئے اونه منلو. چه هوش ئے په ځائے شو نو بیا ئے د کُشتئ د پاره درخواست اوکړو. رسولِ پاك ﷺ د هغه درخواست منظور کړو خو د دے نتیجه هُم د مخکښے

نه مختلفه نه وه یعني دا ځل هُم هغه په یو ساعت کښے شکست اوخوړلو. رُکانه ډیر حیران شو. د هغه په وهم او ګمان کښے هم نه وو چه د هغه په شان غټ او مضبوط پهلوان به دا حشر کیږي. خو بیا هُم هغه شکست منلو ته تیار نه وو. په دریم ځل ئے بیا د کُشتئ درخواست اوکړو او حُضُور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قبول کړو. په دریم ځل هم هغه د حُضُور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د طاقت مقابَله اونکړے شوه او په زمکه راپریوتو او شکست ئے اوخوړو. بیا هغه اُووئیل چه: دا هر څه [چه اوشو دا] تاسو نه دي کړي بلکه ستاسو غالب او قادر معبود الله اوکړل او زما خدایانو زه رُسوا کړم.(دلائل النبوة للاصبهانی، الفصل التاسع عشر، ذکر خبر رکانة، ۲/۲۳۵ماخوذاً) یو روایت کښې دا هُم دي چه رُکانه پهلوان وئیلي وو چه که تاسو (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) زه را اوپرزولم نو زه به مسلمان شم، چنانچه رُکانه مسلمان شو، یعني په هُم هغه ساعت ئې اسلام قبول کړو او د یو روایت مطابق هغوئي د فتحِ مکه په ورځ اسلام قبول کړے وو. (شرح الزرقانی علی المواهب، الفصل الثانی فیما اکرمه الله...الخ، ۶/۱۰۲)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** سُبْحٰنَ الله ! تاسو اولیدل چه زمونږه خوږ آقا مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څومره طاقتور او د اعلٰی اخلاقو مالك وو چه مخامخ کس د جګړے کولو خبره او د کُشتئ چیلنج کوي، ترخے خبرے کوي، دهمکیانے ورکوي، خو قربان شم د حُسنِ اخلاق د پیکر، محبوبِ اکبر صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُلقِ عظیم نه چه د سختو خبرو جواب کښے ئے د حِلم او بُردبارئ او صبر و استقامت او نرمئ نه کار واخستلو. او دا د سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عادتِ کریمه وو چه د بد اخلاقئ

سُلوك كولو والا، رټلو، وهلو، دباوونه كولو ولا، بد بد كتلو والا يا د هر قِسم بد اخلاقئ كولو والؤ سره به ئے هم د مينے او محبت سلوك كولو، او د بد اخلاقئ سُلوك كولو والؤ بدله به ئے هم په حُسنِ سُلوك وركوله، په دے وجه به هغوئي د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقان جوړ شو. اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِديقه رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْهَا فرمائي چه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله تعالٰی په لار كښے جهاد كولو نه علاوه هيڅ كله كوم يو څيز، [يا] زنانه [يعني خپلے بيبيانے] يا خادم په خپلو لاسو مباركو نه دے وهلے، او نه ئے د تكليف رسَوَلو والا نه بدله اخستي ده. البته چا به چه د الله پاك حُدود ماتول نو هغوئي ته ئے د الله پاك د پاره سزا وركړي ده. (مسلم، كتاب الفضائل، باب مباعدته للآثام ۔۔۔ الخ، ص۹۷۸، حديث: ۶۰۵۰)

د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هُم دے كريمانه اخلاقو د بركتونو په وجه ډيرو خلقو اسلام قبول كړو او د بے شميره خلقو په ژوند كښے داسے مَدَني انقلاب پيدا شو چه د اسلام رنړاګانو هر طرف ته د ګمراهئ تِيارے ختمے كړے او قتلونه او جګړے كوونكي د وِينو تږي خلق ئے محبت كښے ګرفتار شو.

دَورِ جہالت تھا ہر سُو جب کُفر کی ظُلمت چھائی تھی
تم نے حیوانوں جیسے لوگوں کو بھی اِنسان کیا
(وسائلِ بخشش مرمّم، ص۱۹۶)

دَورِ جِهالت وو هر طرف ته وے د كُفر تِيارے
تاسو د حيوان په شان خلق هُم انسانان كړل

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# زمونږه کردار او خلق مُعاف کول

**اے عاشقانِ رسول!** مونږ ته پکار ده چه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے حُسن اخلاق ته اوګورو او بیا غور اوکړو چه زمونږه اخلاق څنګه دي؟ مونږه خو د معمولي خبرے سخت جواب ورکول په ځان باندے لازم ګڼړو، که څوك زمونږ سره بد اخلاقي اوکړي نو مونږه ورسره د هغے نه زیات د بد اخلاقئ سُلُوك کول خوښوو، که څوك څه غلطي اوکړي او بیا را نه مُعافیانے غواړي نو بیا هم مونږه هغه نه د بدله اخستلو کوشش کوو. دا ټول د دِین نه د لرې والي او د جهالت کارونه دي.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د خپل خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جسماني طاقت په باره کښے بیان اوریدلو. څنګه چه په نورو خصوصیاتو کښے د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مِثَل نشته دغه شان په جسماني طاقت کښے هُم هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بے مثله بے مثاله دے. راځئ چه په دے باره کښے یوه ایمان تازه کوونکي واقعه واورو:

# د غټ ګټ ماتیدل

**مشهور** صحابي حضرتِ سَیِّدُنا جابِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د **(غزوهٔ خَندَق** په موقع) خَندَق کنستلو کښې ناڅاپه یو سخت ګټ رابنکاره شو چه هغه هیڅ چا هُم نه شو ماتولے. چه مونږه په بارګاهِ **رِسالت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښے دا حالت عرض کړو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

راپاڅیدلو، د درے ورځو لوږه ئے وه او په **خیټه مبارَکه باندے ئے کاڼړي تړلي وو حُضُورِ** اَکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم پرے په خپلو لاسو مبارکو د **پَلک** ګوزار اوکړو نو ګټ د شګو د وراسته خټ په شان ریزه ریزه شو. (بخاری، کتاب المغازی، باب غزوة الخندق، ۵۱/۳، الحديث: ۴۱۰۱) په یو بل روایت کښے دي چه خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په هغه ګټ باندے د **پَلک** درے ګوزاره اوکړل، په هر ګوزار باندے به د هغے نه یوه رڼړا وتله او په هغه رڼړا کښے نبـي کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د شام، ایران او یَمن ښارونه اولیدل او صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته ئے د دے دریواړو ملکونو د فتح کیدلو زیرے ورکړو.

(المواهب اللدنية مع شرح الزرقاني، باب غزوة الخندق...الخ، ۳۱/۳)

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چه د مسلسلے لوږے په وجه ما د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په خیټه مبارکه کاڼړي اولیدل نو ډیر خفه شوم، ما د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم نه اجازت اوغوښتلو **يَا رَسُوْلَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم! ما ته کور ته د تللو اِجازت راکړئ. (اِجازت ئے چه راکړو او کور ته لاړم نو) ما خپلے بي بي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته اووئیل چه، ما **تاجدارِ مدینه** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په داسے حالت کښے اولیدلو چه صبر نه شم کولے. آیا تاسو سره د (خوراك) څه څیز شته دے؟ هغے اووئیل: **وربشے** او یوه **چیلئ** ده. ما چیلئ حلاله کړه او وربشے مے وړه کړے تر دے چه مونږ دواړو غوښه په کټوئ کښے واچوله. زه د **خوږ آقا** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښے حاضِر شوم هغه وخت وړه نرم شوي وو او د ډوډو پخولو قابل شوي وو او کټوئ په نغري باندے پخیدو ته نزدے وه. (ما عرض اوکړو) **يَا رَسُوْلَ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم! ما سره لږ شان خوراك دے تاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ما سره

تشريف يوسئ او يو يا دوه كسان ځان سره راولئ. اوئے فرمائيل:''خوراك څومره دے؟'' ما [د خوراك] مقدار اوښودو نو اوئے فرمائيل: ''خوراك ډير دے او ښه دے.'' (هغوئي [يعني كور والؤ] ته) اووايه ''چه زما د راتلو نه مخكښے نه د نغري نه كټوئ كوزه كړي او نه د تنور نه ډوډئ را اوباسي.'' (بيا) خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته) اوفرمائيل: ''پاځئ''! نو مهاجِرين او اَنصار عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان پاڅيدل. (حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي) زه د ''خپلے بي بي خوا ته راغلم او ورته مے اووئيل، خدائے دِ خير دركړي، سركارِ نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، مُهاجِرين و اَنصار عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان او كوم خلق چه د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وو [هغه ټولو] تشريف راوړے دے.'' هغے اُووئيل، آيا حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو نه تپوس كړے وو؟ ما اووئيل: آو. (په دے كښے) رَحمَتِ عالَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (صحابهٔ كِرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته) اوفرمائيل: ''دننه ننوځئ او ګڼړه مه جوړوئ.'' حُضُورِ اَكرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (په خپلو مباركو لاسونو) **ډوډئ ماتول او په هغے غوښه ايښودل شروع كړل چه كله به خوږ آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **ډوډئ او غوښه را اووِيستله نو كټوئ او تنور به ئے پټ كړل.** او خوراك به ئے صحابهٔ كِرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته وركړلو او بيا به ئے ترينه سر اوچتولو. **خوږ آقا** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هم دے شان ډوډئ ماتوله او د كټوئ نه به ئے غوښه راويستله تر دے چه ټول صحابهٔ كِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ماړه شو او خوراك [چه مخكښې څومره وو هم هغه همره] پاتے شو. نو **خوږ آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (هغوئي ته ''يعنى حضرت جابر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته) اوفرمائيل: ''تاسو پخپله هم اوخورئ او خلقو ته ئے تحفةً [هُم] وركړئ، ځكه چه خلق په لوَږه كښے اخته دي.'' (صحيح بُخارى ج٥ ص٥٥ حديث٤١٠١)

حضرت جابر رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ فرمائي چه نبي كريم صَلَّی اللّٰہُ تعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو لوښي په مينځ كښے خوړلي شوي هډوكي راجمع كړل او په هغے ئے خپل لاس مبارك كيښودلو او لږ كلام ئے اولوستلو چه ما وانه اوريدلو، اوس مو چه د كومے چيلئ غوښه خوړلي وه هغه چيلئ ناڅاپه غوږونه اوځنډل او راپاڅيدله، خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: خپله چيلئ بوځه! ما چيلئ د خپلے بي بي خوا ته راوستله. هغے (په حيرانئ) اووئيل: دا څه دي؟ ما اووئيل: وَاللّٰه! دا زمونږه هُم هغه چيلئ ده كومه چه مونږه حلاله كړي وه. د مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دُعا الله پاك دا راژوندئ كړه! دا ئے چه واوريدل نو د هغوئي بي بي بے اختياره اووئيل: زه ګواهي وركووم چه بے شكه هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاك رسول دے.(الخصائصُ الكبرٰی، ۲/۱۱۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشقانِ رسول!** د دے واقعے نه مونږ ته ډير درسونه حاصليږي، اول خو په دے خبره باندے غور اوكړئ چه كه زمونږ سره طعام كم وي او طعام خوړلو والا زيات شي نو د طعام د مقدار زياتولو نه علاوه راسره بل حل نه وي، تقريبا څلور كلو وړه او يوه چيلئ كه ډيره څربه وي نو هُم په مشكله به د پنځوسو يا شپيتؤ كسانو د خوراك كار اوكړي. خو د نبئ رحمت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بركت دومره طعام د صحابه كرامو ټول لښكر ته هُم اورسيدو بلكه څومره ئے چه پوخ كړے وو هغه همره پاتے هُم شو او چه د چيلئ په هډوكو ئے كلام اولوستلو نو هغه هُم ژوندئ شوه، دا حكايت د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ډيرو كمالاتو مجموعه ده. د دے نه معلومه شوه چه حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مالِكِ كَونَين (يعني د الله په وركړه د دواړو جهانو مالك) دے، د كائنات

تهولے خزانے د هغوئي په لاس کښې دي، که هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غوښتلے نو تهولے خزانے به ئے مخے ته حاضرے وے او چه هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څنګه غوښتلے استعمالولے به ئے، خو دا د هغوئی د کمال درجے عاجزي ده چه د دواړو جهانو د بادشاه او مالِك کيدو باوجود ئے هُم په خیټه مبارکه باندے کانړي تړلي وو.

دا خبره هُم د غور قابله ده چه خوږ مکّی مَدَنی آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو غُلامانو سره په شریکه کار کولو، حالانکه که هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غوښتلے نو صرف نګراني به ئے کولے او د خَندَق کنستلو تهول کار به صحابۀ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان کولے، په دے مبارك عمل کښې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عاجزئ او اِنکِسارئ کولو اظهار هم دے، صحابۀ کرامو سره مَحبَّت هم دے او د اُمَّت د پاره پکښې تعلیم هُم دے.

په دے خبره هم غور اوکړئ چه یو **ګټ** چه ډیرو صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان په شریکه نه شو ماتولے آقا کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دے باوجود چه د ډیرو ورځو فاقه [یعنی لوږه] ئے وه، څه ئے نه وو خوړلي. په خیټه مبارکه ئے کانړي تړلي وو خو بیا هم چه کله هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپلو لاسو مبارکو صرف یو **پَلک** اووهلو نو پوره **ګټ** د شګے په شان ریزه ریزه شو. د دے نه معلومه شوه چه مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هیڅ کله هم زمونږ په شان نه دے. نه د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شان څوك شته او نه کیدے شي.

## دولسو مدني کارونو کښے یو مدني کار "جُمات درس"

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن په دے دور کښے د عاشقانِ رسول مدني

تحريك دعوتِ اسلامي د عشقِ رسول او محبتِ رسول جذبه ورکوي. تاسو هم دے ماحول کښې شامل شئ او د ذِيلي حلقے په دولسو مدني کارونو کښے خپل کردار ادا کړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. اَمِيرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د مدني کارونو د پاره هره ورځ کم از کم د دوه ګينټو ورکولو ترغيب فرمائيلے دے، يقيناً څوك چه څومره زيات وخت ورکړي ، د هغه د پاره به د ثواب ګټلو موقعے هم هغه همره زياتے شي. اِنْ شَآءَالله

ياد ساتئ! د ذِيلي حلقے په دولسو مدني کارونو کښے يو د هرے ورځے مدني کار "**چُمات درس**" هم دے. ۞ "**چُمات درس**" سره جماتونه آباديږي، ۞ "**چُمات درس**" سره د انفرادي کوشش کولو موقع نصيب کيږي. ۞ "**چُمات درس**" سره د لمُونځ ګُزارو په شمير کښے اضافه کيږي. ۞ د "**چُمات درس**" په برکت د نيکئ او خير خبرے ښځپله او نورو ته د زده کولو موقع نصيب کيږي. د خير ښيګړے خبرے زده کول او نورو ته د زده کولو ډيرے فائدے دي. چنانچه

منقول دي چه **الله** تعالیٰ حضرت سَيِّدُنا موسٰی **کليمُ الله** عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي اوفرمائيله چه: "**د خير** [يعني د نيکئ] **خبرے ښځپله هم زده کوه او نورو ته ئے هم زده کوه، زه به د خير** [يعني د نيکئ د خبرو] **د زده کوونکو او د ښودونکو قبرونه روښانه کووم چه هغوئي ته د هيڅ قِسمه ويره نه وي.**" (حِلْيَةُ الاولياء ج٦ ص٥ رقم ٧٦٢٢) د بيان شوي روايت نه معلومه شوه چه ښو ښو نيتونو سره د سنتو ډك بيان کولو يا درس ورکولو او اوريدلو والا ډير خوش قِسمته دي. اِنْ شَآءَالله تعالیٰ د هغوئي په قبرونه کښې به دننه رنړاګانے وي او

هغوئي به د هيڅ قِسمه ويره نه محسوسوي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** مونږه د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جسماني طاقت په باره کښې بيان اوريدلو. يقيناً الله پاك خپل محبوب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته بے مثاله طاقت عطا کړے دے چه په کائنات کښې د هغے هيڅ مثال نشته، او هم دا وجه وه چه د غټ نه غټ پهلوان به خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د مقابَلے کولو طاقت نه لرلو. راځئ چه د دے په باره کښې دوه واقعات واورو:

## يزيد بن رُکانه سره مقابله

(1) د بيان په شروع کښې مونږه د رُکانه پهلوان واقعه اوريدلي وه. د هغه يو ځوئ چه نوم ئے يزيد وو هغه هم غټ پهلوان وو. يو ځل هغه درے سوه چيلو سره په بارگاه نبوت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو او اوئے وئيل اے محمد! (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) تاسو زما سره کُشتي اوکړئ. خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: که ما ته را اوپرځولې نو ته به ما ته څو چيلئ په انعام کښې راکړے؟ هغه اووئيل چه زه به تاسو ته سل چيلئ درکړم. حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تيار شو او هغه ته ئے چه څنګه لاس ورکړو نو سمدستي ئے زمکے ته راويشتو او هغه حيرانئ سره خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته اوکتل او د وعدے مطابق ئے سل چيلئ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ورکړے. خو په دويم ځل ئے بيا د کُشتئ کولو چيلنج ورکړو. خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دويم ځل هُم

د هغه شا په زمکه اولګوله. هغه بیا سل چیلئ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ورکړے. بیا ئے په دریم ځل حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د کُشتئ چیلینج اوکړو. خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه چیلنج قبول کړو او داسے په زوره ئے زمکے ته راویشتلو چه هغه په زمکه ورا برا پریوتو. هغه باقي سل چیلئ هم د نبـي کریم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښے پیش کړے. خو اوئے وئیل چه اے محمد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ! ټول عرب ګواه دے چه د نن ورځے پورے یو پهلوان هُم په ما نه دے غالب شوے، خو تاسو چه څنګه درے ځله په کُشتئ کښے څملولم په دے باندے زما زړه اومنله چه یقیناً تاسو د خدائے نبـي ئے، بیا ئے فوراً کلمه اولوستله او مسلمان شو، حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه په مسلمان کیدلو ډیر زیات خوشحاله شو او هغه ته ئے هغه درے سوه چیلئ بیرته ورکړے. (زرقانی علی المواہب،الفصل الثانی فیما اکرمه الله ...الخ،۶/۱۰۳)

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د دے روایت نه معلومیږي چه حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل نُبُوَّت په نظر لیدلي وو چه که یزید بِن رُکانه سره داسے سُلوك اوکړے شي نو هغه به ایمان راوړي، ځکه خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه سره مقابله اوکړه او وروسته ئے ټولے چیلئ په تُحفه کښې بیرته ورکړے او د هُم دے حُسنِ سُلُوك په وجه هغه اسلام قبول کړو. بهرحال هغه د تربِیَّت زمانه وه او د جوارئ د حرام کیدو نه مخکښې واقعه ده ځکه د دے نه مونږه [د شرط لګولو] دلیل نه شو نیولے، مونږه به په هر صورت کښې د هغه کار نه ځان ساتو کوم چه شریعت منع کړے دے.

## د جوارئ تعريف او د هغے بعضے صورتونه

هره هغه لوبه چه په هغے كښې دا شرط وي چه د مغلُوب (يعني بَيللو والا) يو څيز به غالب (يعني ګټلو والا) ته وركولے كيږي دا **قِمار** (يعني جُواري) ده. (التّعريفات ص۱۲٦)

ياد ساتئ! جواري حرام او جَهنَّم ته بوتلونكے كار دے. د جوارئ يو صورت دا هُم دے، لكه نن صبا چه په موبائل د كمپنئ له طرفه ميسيج راځي چه مَثَلًا كوم ټيم به ميچ ګټي؟ يا پاكستان په كومه ورځ جوړ شوے وو؟ صحيح جواب وركولو والؤ د پاره مختلف انعامات مقرر وي او د حِصَّه اخستونكي د بيلينس نه څه رقم مَثَلًا **10** روپئ كټ كيږي، د چا چه انعام نه را اوځي د هغوئي رقم ضائع شي [او د چا چه را اوځي هغوئي ته ډير انعام ملاو شي] دا هم جواري ده. جواري حرامه او جَهنَّم ته بوتلونكے كار دے.

هُم دغسے په مختلفو لوبو مَثَلًا كركټ، كيرم، بلئرډ، تاش، لُډو، شطرنج وغيره هُم دوه طرفه شرط لګولے كيږي چه بيللو والا به ګټلو والا ته دومره رقم يا فلانكے څيز وركوي (يا به پرے ډوډئ خوري وغيره) دا هُم جُواري او حرام كارونه دي. څكه مونږ ته پكار دي چه د دے كارونو نه ځان اوساتو. او كه څوك تر اوسه په دے ګناه كښې اخته شوے وي نو هغه دِ توبه هُم اوكړي.

كه چا په جوارئ كښې ګټلے رقم وغيره واخستو نو د هغے واپس وركول لازم دي، دا رقم به په څه طريقه واپس وركوي، په دے باره كښې مُفتيانِ كرامو نه رهنمائي اخستل

پکار دي. **الله** پاك دِ مونږه د هرے گناه نه په حفاظت کښې اوساتي.

[د مختلفو مسائلو د تپوس د پاره د دارُ الْاِفتاء اَهلِسُنَّت نوے نمبر نوټ کړئ **03117864100**]

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ابو الاسود سره مقابله

(2) دغه شان ابو الاسود جُمحي هم ډير طاقتور پهلوان وو، د هغه په باره کښې راځي چه هغه دومره طاقتور وو چه هغه به په يوه څرمن کښيناستلو او لسو پهلوانانو به هغه څرمن راښکله چه هغه څرمن د هغه د لاندے نه راخلاصه شي، هغه څرمن به په راښکلو اوشليدله او ټکړے ټکړے به شوله خو د هغه د لاندے نه به نه راخلاصيدله. يو ځل هغه هم د حُضُور انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او چيلنج ئې اوکړو چه که تاسو زه په کُشتئ کښې راڅملولم نو زه به مسلمان شم. حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه سره کُشتئ کولو د پاره پاڅيدلو او د لاس نيولو سره ئے سمدستي په زمکه را څملولو. هغه د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت په دے طاقت حيران شو او فوراً مسلمان شو. (زرقانی علی المواہب،الفصل الثانی فیما اکرمه اللّٰه ...الخ ،۶/۱۰۳)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! الله پاك خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته څنګه جسماني طاقت عطا کړے دے. ياد ساتئ! شهنشاه مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هیڅ کله هم په خوراك ځان نه دے موړ کړے او نه هغوئي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پهلوانئ طرف ته توجه کړي ده، د دے باوجود دومره زور او طاقت د هغوئي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معجزه هم ده.

## د کُشتئ شرعي حيثيت

راځئ چه د موقعے په مناسبت د کُشتئ په باره کښې شرعي حُکم هم وارو، چنانچه **فتاویٰ هِنْدِيه** کښې دي چه د کُشتئ په میدانونو کښې که کُشتي کول د لَـهو و لعِب په طور نه وي بلکه د دے مقصد خپل بدني طاقت زیاتول وي نو دا جائز دي خو شرط دا دے چه [فرض] ستر پټولو سره وي، نن صبا چه [خلق] د کشتئ د پاره لنګوټے او جانګے اغوندي او په هغے کښې ورنونه [او زنګونان او د نامه نه لاندے حِصَّه] وغیره ښکاره وي دا ناجائزه [او ګناه] ده او د داسے کُشتئ تماشه کول هُم ناجائزه [او ګناه] ده، ځکه چه د چا ستر ته کتل حرام دي. ۔(فتاوی ھندیۃ، کتاب الکراہیۃ، باب السابع عشر فی الغناء۔۔۔الخ، ۳۵۲/۵ملخصاً) [د نارینه فرض پرده د نامه نه واخله د زنګونانو پورے ده، یعني زنګونان هُم پکښې شامل دي]

## شعبه ائمه مساجد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د نیکو حرص زیاتولو د پاره او د ګناهونو نه د بچ کیدلو ذِهن جوړولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مدنی تحریك دعوتِ اسلامی کښې شامل شئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامی په ټوله دُنیا کښې دا وخت د 107 نه زیاتو شعبه جاتو

په ذريعه د دين اسلام پيغام عام كولو كښې مصروفِ عمل دے، په دے شُعبو كښې يوه شعبه ''**ائمۂ مساجد**'' هم ده. په دے كښې شك نشته چه څوك د جماتونو آبادولو د پاره د ائمۂ [يعني اِمامانو] او مؤذنانو د مقررولو كار كوي او د هغوئي د خيرخواهي د پاره مناسب تنخواګانے هم مقرروي، د پاره د دے چه دا اسلامي ورونړه د مالي پريشانئ نه آزاد وي او ډير ډير د نيكئ دعوت عام كړي. د جماتونو په آبادولو كښې د ائمه او مؤذنانو اهم كردار وي. د دعوتِ اسلامي ماحول كښې شامِل ائمه كرام د سحر لمَانځه د پاره د مسلمانانو رابيدارولو او د انفرادي كوشش په ذريعه د جَمعے [يعني امامتئ سره] د لمَانځه كولو ترغيب وركوي، درسِ فيضانِ سُنَّت، د سحر د لمَانځه نه پس د تفسيرِ قرآن په حلقه كښې شريك كيږي او د سُنَّتو د تربيت د پاره د عاشقانِ رسول په قافلو كښې د سفر كولو او نور خلق هُم ځان سره قافلو كښې د بوتللو په ذريعه جماتونه آباد ساتي. فرمان مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: څوك چه جمات سره مينه ساتي، اللّٰه تعالٰى هغه سره محبت كوي. (**مُعْجَمُ اَوْسَط**، ۴/۴۰۰، **حديث**: ۶۳۸۳)

حضرتِ عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دے حديثِ پاك په شرح كښې ليكي: جمات سره مينه، د اللّٰه د رضا د پاره په هغے كښې اعتكاف كول، لمُونځ، ذِكرُ اللّٰه او [په هغے كښې] شرعي مسائل زده كول او نورو ته زده كولو د پاره د كښيناستلو عادت جوړول دي. او د اللّٰه پاك د هغه بنده سره محبت كول داسے دي چه اللّٰه پاك هغه ته د خپل رحمت په سوري كښې ځائے وركوي او هغه په خپل حفاظت كښې داخلوي.

(**فيض القدير**، ۶/۱۱۲، **تحت الحديث**: ۸۵۲۴)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او يو څو سُنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساكر ج٩ ص٣٤٣)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا**

## د عِمامے شريفے مَدَني ګلونه

**شپږ فرامِينِ مصطفٰی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ۞ عمامے سره دوه رکعاته لـمُونځ د عمامے نه بغير د اويا (۷۰) رکعاتو نه افضل [يعني غوره] دې. (الفِردوس بمأثور الخطاب ج2 ص265 حديث3233) ۞ په ټوپۍ باندې عِمامه زمونږه او د مُشرِکينو په مينځ کښې فرق دے، هر لږ چه مسلمان ئې د خپل سر نه تاوهي په هغے به د قيامت په ورځ يو نُور ورکولے شي. (الجامِعُ الصَّغير لِلسُّيُوطی ص353 حديث5725) ۞ بيشکه الله تعالٰی او د هغه فرِښتے دُرُود ليږي د جُمُعے په ورځ عِمامه والؤ باندې. (الفِردوس بمأثور الخطاب ج1 ص147 حديث529) ۞ عِمامے سره لـمُونځ د لسو زرو نيکو برابر دے. (ايضاً ج2 ص406 حديث 3805 فتاوىٰ رَضَويّه مُخرَّجه ج6 ص213) ۞ عمامے سره يوه جُمعه د بغير عمامے اوياؤ **(70)** جُمعو برابره ده. (ابنِ عساكر ج37 ص355) ۞ عمامے د عربو تاجونه دي، نو عمامه اوتړه ستا وقار [يعني عزّت] به زياتيږي او څوك چه عمامه اوتړي د هغه د پاره په هر لږ باندې يوه نيکي ده. (جمع الجوامع للسيوطي، ج٥، ص٢٠٢، حديث١٤٥٣٦) ۞ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي اِدارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د **1197** صفحو کتاب **بهارِشريعت** جلد3 صفحه **660** کښې دي: عمامه په ولاړه تړئ او پاجامه [پرتوګ وغيره] په ناسته اغوندئ، که چا د دې خلاف اوکړه (يعني عِمامه ئې په

ناسته اوترِله او پاجامه [يا پرتوګ وغيره] ئې په ولاړه واغوستو) نو هغه به په داسې مرض کښې اخته شي چه د هغے عِلاج نشته. ۞ عِمامه ترِلو نه مخکښې لږ صبر اوکړئ او ښه ښه نيتونه اوکړئ، ګنې که يو هم ښه نيّت نه وو نو ثواب به نه کيږي، لِهٰذا کم از کم دا نِيَّت اوکړئ چه د **اللّٰه** تعالیٰ د رضا د پاره د سُنَّت ادا کولو د پاره عِمامه ترِم ۞ مناسب دا دي چه د عِمامے وړومبے لړ د سر ښي طرف ته تاؤ شي. (فَتاوٰی رَضَوِيَّه ج22ص199) ۞ د **خوږ نَبِي** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې عمامے شمله به عام طور د مبارکې ملا طرف ته وه او کله کله به ښي طرف ته، کله به د دواړو اُوګو د مينځه دوه شملے وے. ګڅ طرف ته شمله زوړندول خِلافِ سُنَّت دي. (اَشِعَّةُ اللَّمعات ج3ص582) ۞ د عمامے د شملے اُوګږدوالے کم از کم څلور ګوتې او ۞ زيات نه زيات (د نيمې ملا پورې يعني تقريبًا) يو لاس. (فَتاوٰی رَضَوِيَّه ج22ص182) (د مينځنئ ګوتې د سر نه واخله څنګلې پورې ناپ ته يو لاس وائي) ۞ عمامه مخ په قبله په ولاړه ولاړه ترِئ. (کَشفُ الاِلتِباس فِي اِستِحبابِ اللِّبَاس ص38) ۞ په عمامه کښې سُنَّت دا دي چه د دوه نيمو ګزو نه کمه نه وي، او د شپږو ګزو نه زياته نه وي، او دا د ګُنبد په شان [يعني داسې] اوترِلے شي [چه مينځ ئې بره اوتے وي] (فَتاوٰی رَضَوِيَّه ج22ص186) ۞ رومال که غټ وي او دومره لړونه تاؤ شي چه سر پټ کړي نو دا عِمامه شوه او ۞ وړوکے رومال چه د هغے نه يو دوه لړه جوړ شي د دې تاوهل مکروه دي. (فَتاوٰی رَضَوِيَّه مُخرَّجه ج7ص299) ۞ که [څوك] عِمامه سپړي او بيا ئې ترِل غواړي نو چه څنګه ترِلي شوي ده هم هغسې دِ ئې [يو يو لړ] سپړي، په يو ځل دِ ئې زمکې له نه را اچوي. (عالمګيري ج5ص330) ۞ که ضرورتاً ئې لرې کړي او دوباره ئې د ترِلو نِيَّت وي نو په يو يو لړ سپړدلو [يعني خلاصولو] به ئې يوه يوه ګناه معاف کيږي. (مُلخّص از فَتاوٰی رضَوِيّه مُخرَّجه ج6ص214)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د **۳۱۲** صفحو

کتاب ”بهارِشريعت“ حصّه ١٦ او (٢) د ١٢٠ صفحو کتاب ”سُنّتیں اور آداب“ هديه کړئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربيَّت يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د راروانے هفته وارے اجتماع د بيان جهلکيانے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارے د سُنّتو ډکے اجتماع د بيان موضوع به وي د ”**فيضانِ رَبِيعُ الْآخِر**“ په دے کښې به د غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ تعالٰى عَلَيْه د سيرت په باره کښې يو څو فائده مندے خبرے بيانيږي، د رَبِيعُ الْآخِر مياشت څنګه تيرول پکار دي، بُزرګانِ دِين رَحْمَةُاللهِ تعالٰى عَلَيْهِم د دې مياشتے په مناسبت د کومو کومو عبادتونو ذِکر فرمائيلے دے. او په آخِره کښې به د رَبِيعُ الْآخِر د مياشتے او د غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ تعالٰى عَلَيْه په نسبت د يولسمے تعريف او د هغے برکتونه هم بيانيږي.

لِهٰذا د **الله** تعالٰى د رضا د پاره راروان زيارت له هُم اجتماع کښې د حاضرئ نِيَّت اوکړئ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِيَّت هُم اوکړئ. لاس اوچت کړئ او په زوره اُووائے. اِنْ شَآءَاللّٰه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښے د داخليدو وخت کښے هُم، تر دے چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځئ چه مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چه تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښے او که ناست وو نو اودريدو نه مخکښے به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چه مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصاً

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په مينځ کښے کښينولو، دے باندے صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم حيران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چه کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[3] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

1…القول البديع، الباب الثاني، ص۲۷۷

2…افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3…القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

**جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ**

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوایت دے چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورے نیکئ لیکي.[2] راځئ چه مونږه ئے هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم**

(د خُدائے حَلیم وکریم نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، اللہ پاک دے چه د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

1... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاۃ...الخ، ۲۵۴/۱۰، حدیث:۱۷۳۰۵

3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حدیث:۴۴۱۵